هدایت الله هدایت د ۲۰۱۰ کال د فروری شلمه

# د نړۍ د وتلو رسنیو او ورځپاڼو پېژندنه (۱۱)

## واشنګټن پوسټ ورځپاڼه

The Washington Post

په امریکاکي خاصتن د نولسمي پېړۍ په ورستیو کي یعني د هغه راهیسي چي ددې هیواد دصنعتي کېدو پروسه شروع سوه ، ورځپاڼو او نورو را وروسته رسنیو ته همیشه د یوې تجارتي متاع په حیث کتل کېده او ډېر لږ یې د هغه د تولنیزي پوهاوی و ارزښت ته ارزښت ورکاوه. د غتو کارتلانو جوړښت او د مطبوعاتو د توذیع او تکثیر د مصارفو لوړ بدل ددې باعث سوه چي د مطبوعاتو سوداګري او د هغه څخه د زیاتي ګټي لاسته راوړل ، و سوداګرانو ته تر هر څه زیات اولویت پیداکړي. د ورځپاڼو د مرګ او ژوند سرنوشت هم د بازار د عرضي او تقاضا پر بنیاد او د مناسبو خبرود خپرېدو په متن کي تاکل کېدئ . یوازي هغه ورځپاڼي او رسنۍ به ژوندی پاتي کېدلي چي بس تر تولو زیاتي ګټي به یې در لودلي او یا تر شا به یې یو څوک ولاړ وو!

د واشنګټن پوسټ ورځپاڼه په امریکه کي د نیویارک ټایمز ورځپاڼي راو روسته د امریکا پر تیراژ ترینه او خورا مشهوره ورځپاڼه ده چي د دولت و اداري کارمندانو او مامورینو ته توذیع کیږي او خپل سیاسي نظریات و سیاستمدارانو ته ډیکته کوي . ددې ورځپاڼي اداره د یهودي ملیاردرانو په لاس کي ده چي په هره مسئله کي هغوی خپل فکري هدفونه تعقیبوي . نن سبا ددې ورځپاڼي لوری هم د امریکا په داخل کي اوهم پر نړۍ وال ذهنیت باندي د یهودانو د نفوذ اوحاکمیت د تینګېدو د پاره خپل کمپاین پر مخ بیایي .

په امریکا کي د یهودانو د پاره و قدرت ته د رسېدو او په امریکا کي د هغوی د تاثیر یو اصلي عامل او عمده لاره د نړۍ پر لویو رسنیو باندي د هغوی لارسرسي او کنټرول دئ . هغوی نن په دې توانېدلي دي چي په امریکا او نړۍ کي د رسنیو په زور و خپلو اصلي اهدافو ته ځان نیژدې کړي .

مشهور امریکایي خبریال د زیاتو کتابو لیکوال مایکل کالینز پایپر Michael Collins Piper په خپل تازه « نوی اورشلیم The New Jerusalem؛ په امریکا کي د صهیونیستانو قدرت » نوم کتاب کي، د یوه منتقده خبریال په حیث د یهودانو او اسرائیلو د سیاستو په اړه لیکي ، چي نن سبا امریکا د یهودانو د یوځای کېدو او تجمع دپاره داسي یو محل دئ چي په واقعیت کي لکه نوی اورشلیم چي پخپله همدا امریکه وي .

دغه لیکوال دخپل کتاب په لومړي فصل کي د امریکا ددوو ثروتمنده یهودي کورنیو نوم اخلي چي په دې هیواد کي د زیات رسوخ او قدرت خاوندان دي . دغه دوې کورنۍ د مایر ـ ګراهام او وینو هاواس په نومو معرفي کیږي . لیکوال؛ د مایر ـ ګراهام په باره کي لیکي چي مایر ـ ګراهام د واشنګټن پسټ د ورځپاڼي مالک او په امریکا کي د تولو ثروتمنده کورنیو په کتار کي پینځویشتم ځای لري . نوموړې همدا اوس د رسنیو لویه امپراتوري ځانته جوړه کړېده او ویل کیږي چي دغه رسنۍ د امریکا د دولت او د امریکا د جاسوسی د سازمان یا سي آی اې (سیا) په تولو کړیو کي رخنه کړې او د امریکا په دولت پوري د مربوطه خبرو د خپرېدو د پاره یو خاص سیستم را مینځته کړی دئ .. د واشنګټن پسټ، نیوزویک، انټرنیشنل، هرالډ ټریبون، لاس انجلس ټایمز، کولز، سنټ پاول سټار، ګزیټ، پسټ – نیوز ویک کالبر، ورځپاڼي او مجلي او همدا رنګه د KPRC -TV , WPIV، WJXT-TV، KSAT-TV، WFSB-TV او WPLG-TV ټلویزوني شبکي ددې کورنۍ د سرمایي یوه برخه ده! د واشنګټن پوسټ ورځپاڼه د واشنګټن پوسټ په نامه د یوه عظیم شرکت نوم هم دئ چي د پورته ډله ایزو رسنیو نه علاوه د نورو غیر رسنیزو شرکتو مالکیت هم لري،

دواشنګټن پوسټ ورځپاڼه د امریکا په حکومتي اداراو کي ، د کانګرس په انتخاب سوي غړو او په لوړ پوړي دولتي مقاماتو کي زیات رسوخ لري . دا هم ویل کیږي چي دغه ورځپاڼه په مهمو چوکیو کي د اشخاصو په نصبولو او ګوښه کولو کي کارنده اثر لري، همدارنګه هغه قوانین چي د امریکا په کانګرس کي تصویب کیږي یا هغه سیاستونه چي د بهرنیو او کورنیو چارو په اړه تعیینیږي ، دواشنګټن پوسټ رهبري د هغه په رد یا تائید کي اثر ناکه نقش لري . د دې ورځپاڼي د نظر خاوندان او مدیران کولای سي د خاصو مسائلو په طرحه کولو کي خلک سرګرمه وساتي او یا دا چي کله چي هغوی و غواړي کوم څه و خلکو ته و نه رسیږي نو کولای سي هغه د هغوی د اذهانو څخه ایسته کړي . دغه ورځپاڼه د فقر، لوږې، تورم، نفت ، جګړو او ډېرو داسي نورو سیاسي او تولنیزو،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

اقتصادي او فرهنگي مسائلو په اړه د امریکا عامه ذهنیت د خپلو اهدافو په لوري رهبري کوي او په ډېره ماهرانه توګه واقعیتونه مَسخوي .
د واشنګټن پوست ورځپانه د سپیني ماڼۍ،کانګرس او د امریکا د حکومتی ادارو د فعالیتو او اجرآتو دمفصلو ګزارشو د خپرولو په وجه ځانته د امریکا د نورو ورځپانو په پرتله ، ځانګړی اهمیت ورکړی دئ .

دواشنګټن پوسټ ورځپانه په ۱۸۷۷ کي د ستیل سن هوچنز Stilson Hutchins لخوا چي ډیموکراټ وو، تأسیس سوه او په څلورو مخو کي خپروني شروع کړې . ورځپاني د خپل کار په لومړي پړاو کي د مالي ستونزو سره مخامخ او نتیجه داسوه چي په کال ۱۸۸۹ کي د جمهوري غوښتونکو د کابینې غړی فرانک هاټن Frank Hatton باندي خرڅه سي، نوموړی تردې دمخه په کانګرس دډیموکراټ ګوند غړی وو . د ورځپاني دغه نوی خاوند د پاڼي د اندازي او د مخونو و حجم ته بدلون ورکړ خو څرنګه چي ورځپاني ډېر محافظه کاره چلند درلود نو ډېر برى ئي په برخه نسو.

په ۱۹۱۵ کي واشنګټن پوسټ ورځپانه د جان مک لین John R. McLean لخوا رانیول سوه او د عادی او ټولنیزو موضوعاتو په خپرولو یي ورځپانه د سیاسي حالت څخه را وایستله. د مک لین تر مرګ وروسته په کال ۱۹۱۶کي د نوموړي زوی اېوارډ Edward د ورځپاني کنټرول په خپل لاس کي ونیاوه. څرنګه چي نوموړي د جمهوري غوښتونکي د ګوند د مشر وارن هارډینګ Warren G. Harding سره انډیوالي درلودله، نو ورځپانه یي د هغه په ترببیون واړوله او د هغه وخت د عام باور له مخی دغه ورځپانه د هغه په شخصی اورګان باندي اوښتي وه .

خو د یهودانو بیا دمک لین د کورنی سره نه وه جوړه نو په دې ورځپانه کي دخپلو اعلانو په نه خپرېدو سره ددې ورځپاني روزګار خراپ او هغه یي د دېوالي کېدو خوا ته ټېله کړه . ددې مالي بحران او ورشکستګی په نتیجه کي وه چي ورځپانه و لیلام ته واچول سوه . په کال ۱۹۳۳ کي په امریکا کي د یهودي کورنی لوی سرمایه دار یوګن مایر ( Eugene Meyer ) واشنګټن پوسټ ورځپانه رانیوله . میلیارډر یوګن مایر ،د امریکي د هغه وخت دجمهور رئیس هري ټرومن سره خورا نیژدې او دوستانه اړیکي درلودلي . فلیپ ګراهام Philip L.Graham ، چي د یوګن مایر زوم، او د هغه د لور کاترین مایر ګراهام Katharine Graham مېړه وو، هغه هم د جمهور رئیس جان کنېډي سره ټینګي اړیکي درلودلي چي دغه دواړه جمهوور رئیسان د ډیموکراټ ګوند غړي وه .

د مایر کورنی ته ددې ورځپاني د مالکیت انتقال ددې باعث سو چي لوی سوداګر ، د لویو کمپنیو مالکان او د لویو کار و سر رښتي خاوندان دیوه سره خپل اعلانونه ورته را مات کړي او د واشنګټن ورځپانه پر پښو ودروي . د مایر په لومړی لس کلنی دوره کي د ورځپاني د چاپ شمېره دري چنده سوه او د اعلاناتو عاید یي هم د ۴ څخه و ۱۲ میلیونولیکوته خبز وواهه. . د یهودانو د ملاتړ په وجه وو چي واشنګټن پوسټ د ګټو، شهرت او د خپل راتلونکي ماموریت د تحقق و خواته رهي سوه .

فیلیپ ګراهام ، د مایر زوم د۱۹۴۶ م نه وروسته ددې ور ځپاني مدیریت پر غاړه واخیست او د نړی واله چارو وانعکاس ته یي زیاته پاملرنه وکړه . هغه داسي هڅي را پیل کړي چي واشنګټن پوسټ په بهر کي هم خپل حضور پیدا او د نړی او امریکا د پېښو څخه ګزارشونه خپاره کړي . هغه د نیوزویک (Newsweek) مجله هم را نیوله او ددې دواړو خپرونو په یوځای کولو سره یي یوه کامیابه د استعماري ګټو پروژه په کار واچوله .

په ۱۹۵۴ کي واشنګټن پوسټ مالک خپله پخوانی سیاله او محافظه کاره ورځپانه واشنګټن ټایمز هراڵډ Washington Times-Heraldهم را نیوله او هغه یي پخپل ځان کي مدغمه کړه، په دې توګه د واشنګټن ټایمز هراڵډ ټوله مشتریان او لوستونکي، واشنګټن پوسټ و ځانته را کش کړل .

کاترین ګراهام Katharine Graham د یوګن مایر لور په کال ۱۹۵۹ کي د خپل پلار تر مړیني او په ۱۹۶۳ کي د خپل مېړه فیلیپ ګراهام د خودکشی نه وروسته د واشنګټن پوسټ د ورځپاني د مالکیت او سرپرستي وظیفه پر غاړه واخیسته . هغي د کال ۱۹۶۹ څخه بیا تر ۱۹۷۹ پوري د ورځپاني دمسؤلي مدیري، د ۱۹۷۳ څخه بیا تر ۱۹۹۱ پوري ددې ور ځپاني د مدیره هیئت د مشري په حیث او د ۱۹۹۳ نه بیا دهغي تر مرګه یعني د کال ۲۰۰۱ پوري ددې ورځپاني د اجرائي کومیټي د رئیسي په توګه وظیفه په غاړه لرله . وروسته بیا د هغي زوی ډونالد ګراهام دغه دنده په غاړه واخیستله .

کاترین ګراهام ډېره کینډلي او د زیات قدرت خاونده وه ، په امریکا کي یي « د امریکي د قدرتمنده ښځي» په نامه شهرت پیدا کړی وو . هغي د امریکا د هغه وخت د جمهور رئیس ریچارډ نکسن سره نه وه جوړه . دغه د نه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

جوړي واقعيت يي  د امريکا پخواني سناتور باب ډوول په يوې ټلوېزوني مصاحبه کې پاش کړېوه . کين کلاوسن چې د نکسن په دولت کې د اړيکو د ځانګي مدير وو، مخکې تر دې  يي په  واشنګټن پسټ کې د خبريال په حيث وظيفه اجرا کوله، نوموړي  په دې ورځپانه کې دخپل يوه پخواني  دوست په مرسته  دغه خبره  کشف کړه چې کاترين ګراهام  د واټرګيټ په افتضاح کې د خبريالانو يو لوی لښکر موظفه کړی وو چې د نکسن د ضعيفو نکتو په پيدا کېدو سره وهغه ته کاري  ضربه ورکړي . هغه وو چې نکسن په دې افتضاح کې  ګرم را ووت  او د کال ۱۹۷۴ په اګست کې استعفاء ورکړه .
د جمهور رئيس  ريچارډ نکسن په استعفا سره واشنګټن پوسټ، لا نور هم  زيات شهرت  ځانته وګاټه ، په واقعيت کې يې دا خبره روښانه کړه   چې  دغه شاني رسنی کولای سي  ځرنګه خپل حريفان  بدنامه او  يا د کاره ګوښه کړي  او يا دا چې د  خپلو ګټو د پاره   هغه   وکاروي.

نن دواشنګټن پوسټ ورځپانه په  امريکا کې دډېر با اعتباره کارپوهانو د حضوره څخه هم  ګټه اخلي . د هغوی باوزنه ليکني ددې خپروني په هره برخه کې ليدل کيږي حال دا چې سياسي ګزارشونه او خبرونه چې  په متحده ايالاتو کې ددولتي بدلونونو په اړه يوه ډېره ګټوره اطلاعاتي منبع ده، بيا ددولت په صفحه کې انعکاس پيداکوي  . د دې   ورځپاني مخونه د بېلابېلو عنوانو په درلودلو سره لکه  خبرونه، دولت،نړی، ورزش، سينما،فرهنګ، تحليلونه او علمي ليکنو ته ځانګړي سوي دي او د سياسي او اجتماعي مصاحبو برخه يې په خاص مسلکي مهارت سره درج کړي دي چې زياد تاثير ښندونکي دي.

د سياسي تګ لاري له رويه، ددې ورځپاني مديرانو اعلان کړی وو چې په انتخاباتي مبارزو کې به ،د خبرو په ترتيب کې  بې طرفانه کردار ادا کوي خو ددې سره سره دغه ورځپانه زياتره د ډيموکراټانو د کانديدانو څخه خپل سياسي ملاتړ کړی دئ، دبلې خوا بيا په ورستيو کلو کې ځيني  ښی اړخي سرمقاله ليکونکي يې هم  جذب کړي  وه چې  کين اړخي منتقدانو دغه ورځپانه  د فرهنګي او سياسي له  لحاظه  يوه محافظه کاره ورځپانه  معرفي کوله .

د ۲۰۰۴ تر سپټامبره پوري ددې ورځپاني ورځنی تيراژ څه کم اته لکه نسخو ته  رسېدی، خو راوروسته په ورځ کې تر يوه ميليونه نسخو نه هم واوښت او دتيراژ په تناسب د نيويورك ټايمز، لاس آنجلس ټايمز، وال استريټ ژورنال او يو ايس اې ټوډې نه وروسته د امريکا پنځمه  ورځپانه ګڼل کېد ه .

په امريکا کې چير د تير کال راهيسي  سخت مالي بحران روان دئ،  په امريکا کې يي  لوی شرکتونه ډېوالي کړه دغه بحران و رسنيو ته   هم دروند آفت پيښ کړی دئ .  په همدې لړ کې د واشنګټن پوسټ هفتګي مجله چې د واشنګټن پوسټ د ورځپاني ګلچينه مطالب به پکښې خپرېدل او د  ۲۵ کالو راهيسي خپرېدل، د تير کال په ډسمبر کې و تړل سوه  .  همدا رنګه دغه ورځپاني  په شيکاګو،لاس انجلس او نيويارک کې خپل دفترونه د تير کال د ډسامبر په آخر کې  وتړل او څه ناڅه دخپلو کارمندانو د جملې څخه يې و ۳۷۰ تنو ته چې د ټولو کارمندانو   په سلو کې ۴۰  يي  جوړاوه   د کاره جواب ورکړ. دغه ورځپانه اوس يوازي د واشنګټن څخه خپلي خپروني کوي .

واشنګټن پوسټ په ۲۰۰۲ کال کې  ۷  د پوليټزر جايزې  د سپټامبر د يولسمي د خبرو د ښه پوښښ په خاطر وړي وی . تر ۲۰۰۵ ميلادي کال پوري د پوليټزر اتلس جايزې ، د نيومن اتلس تحصيلي بورسونه او د سپيني مانۍ د عکاسانو د انجمن ۳۶۸ جايزې لاسته را وړي دي . واشنګټن پوسټ  په ۲۰۰۸ کال کې د ژوناليزم د پوليټزر د ۱۴ جايزو څخه شپږ وګټلې . او د نيويارک ټايمز نه وروسته تر ټولو زياتي دغه شاني جايزې يي  وړي دي .

د پوليټزر  Pulitzer  جايزه په ژورناليزم کې د امريکا ډيره وياړلي او مشهوره ملي جايزه ده چې په نيويارک کې د کولمبيا د پوهنتون لخوا اداره کيږي . دغه جايزه د لومړي ځل د پاره په کال ۱۹۱۷ کې  د امريکايي خبريال جوزف پوليټزرJoseph Pulitzer  په ياد جوړه سوه.

پای

مأخذونه :


/http://www.washingtonpost.com
http://www.washpostco.com/phoenix.zhtml?c=٦٢٤٨٧&p=irol-history
http://www.washpost.com/gen_info/howproduced/index.shtml
http://en.wikipedia.org/w/index.php?title=The_Washington_Post&oldid=٢١٦٣٤٦٠٣١
http://en.wikipedia.org/wiki/Michael_Collins_Piper
http://www.amfirstbooks.com/catalog/product_info.php?products_id=١١




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ